# د کوویډ-19 واکسینونه

## اکثر کېدونکې پوښتنې

اخري تازه شوي په: 5 اګست 2021

### ماته د مخه کوویډ-19 لګېدلی و. آیا زه بیا هم واکسینو ته اړتیا لرم؟



بلې. د مخکیني عفونت نه مصئونیت ښایي زیات وخت ادامه ونکړي. امکان شته چې کوویډ-19 درته بیا ولګي. د بهتر حفاظت لپاره دوه خوراکه واکسین ترلاسه کړئ.

### کوم واکسین بهتر دی؟



د کوویډ-19 ټول واکسینونه چې د کاناډا د روغتیا لخوا منظور شوي دي کوویډ-19 څخه د شدیدې مریضۍ مخنیوی کوي.

### آیا د mRNA واکسینونه یو بل سره بدلېدلی شي؟




د mRNA دوه واکسینونه (Moderna او Pfizer) د یو شان ټکنالوجۍ نه استفاده کوي او دا واکسین یو بل سره ګډول محفوظ دي. د بهتر او اوږد حفاظت لپاره مهمه ده چې دوه خوراکه (ډوزه) ترلاسه کړئ.

### که زه د اټوایمون او/یا بله کومه روغتیایي ستونزه لرمه نو آیا ما لپاره دا واکسین کول خوندي دي؟



بلې. په ملیونونو کوویډ-19 واکسینونه داسې خلکو ته شوي دي چې بېلابېلې روغتیایي ستونزې لري، لکه د زړه مریضي، ساه لنډی، ډیابیټس، د بندونو پړسوب، سرطان او پیوندونه. واکسین به مو د کوویډ-19 له امله شدیدې بیمارۍ څخه حفاظت وکړي. که پوښتنې لرئ نو خپل د روغتیایي پاملرنې پروایډر سره خبرې وکړئ.

### آیا واکسین د حساسیت لرونکو خلکو لپاره خوندي دی؟



د کوویډ-19 واکسین هګۍ ، جیلټین، محافظت کوونکي یا انټي بیوټیکونه نلري. د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکی به له تاسو سره د واکسین اجزاوو بیاکتنه وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دا ستاسو لپاره خوندي دی. د واکسین کولو وروسته، تاسو به لږترلږه 15 دقیقې د هر ډول عکس العمل لپاره وڅارل شئ. د هر ډول عکس العمل سمدستي درملنه کیدی شي.

# د کوویډ-19 واکسینونه

## اکثر کېدونکې پوښتنې

اخري تازه شوي په: 5 اگست 2021

### آیا د واکسین جانبي عوارض شتون لري؟



ځینې خلک ممکن معتدل جانبي عوارض ولري لکه سر درد، تبه، لړزه یا د پیچکارۍ ځای کې درد. جانبي عوارض د دوهم ډوز وروسته ډېر عام دي. عکس العملونه ممکن له 1 څخه تر 3 ورځو پورې دوام وکړي. تاسو کولی شئ د واکسین کولو وروسته د علایمو د تسکین په موخه د نسخې پرته درمل واخلئ.

### که زه مخدره مواد یا الکول مصرفوم نو آیا واکسین ما لپاره خوندي دي؟



بلې. که تاسو مخدره مواد یا الکول مصرفوئ نو واکسین تاسو لپاره خوندي دي.

### د دوه ډوزونو ترلاسه کولو وروسته، آیا کولی شم "نورمال" فعالیتونو ته ستون شم؟




خلک د هغوی د کوویډ-19 واکسین د دوهم ډوز څخه دوه اونۍ وروسته په بشپړ ډول واکسین شوي گڼل کیږي. تر هغه چې ډیر خلک په بشپړ ډول واکسین نه شي، له نورو څخه لږترلږه 2 متره فاصله ساتلو ته ادامه ورکړئ، په سرپټو عامه ځایونو کې یا دباندې کله چې نشئ کولی فاصله وساتئ ماسک واغوندئ او خپل لاسونه ومینځئ.

### د واکسین کېدو فایدې څه دي؟



څومره زیات خلک چې واکسین کېږي نو هغه هومره د کوویډ-19 پېښې کمېږي، نو د عامه روغتیا ځینې مقررات ختمول کېدلی شي او کاروبارونه خلاصېدلی شي. ددې مانا داده چې مونږ ټول بېرته هغو زیاتو فعالیتونو ته ستنېدلی شو چې زمونږ خوښېږي، په گډون د:

- د فامیل آسیب پذیر غړو او دوستانو لیدلو ته په ارام ذهن تلل
- سفر کول
- د هنر، ساعت تېرۍ او ورزشي غونډو کې گډون کول

واکسین کېدل زمونږ د روغتیایي پاملرنې سیسټم باندې فشار هم کموي نو په دې توگه عملیات یا نورې تداوۍ بېرته پیل کېدلی شي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د toronto.ca/COVID19 پاڼې ته لاړ شئ یا د ټورنټو عامه روغتیا ته په 416-338-7600 لمبر زنگ ووهئ.